# مَنْ خَرَجَ مِنَ الطَّاعَةِ، وَفَارَقَ الْجَمَاعَةَ فَمَاتَ، مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «مَنْ خَرَجَ مِنَ الطَّاعَةِ، وَفَارَقَ الْجَمَاعَةَ فَمَاتَ، مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً، وَمَنْ قَاتَلَ تَحْتَ رَايَةٍ عِمِّيَّةٍ، يَغْضَبُ لِعَصَبَةٍ، أَوْ يَدْعُو إِلَى عَصَبَةٍ، أَوْ يَنْصُرُ عَصَبَةً، فَقُتِلَ، فَقِتْلَةٌ جَاهِلِيَّةٌ، وَمَنْ خَرَجَ عَلَى أُمَّتِي، يَضْرِبُ بَرَّهَا وَفَاجِرَهَا، وَلَا يَتَحَاشَى مِنْ مُؤْمِنِهَا، وَلَا يَفِي لِذِي عَهْدٍ عَهْدَهُ، فَلَيْسَ مِنِّي وَلَسْتُ مِنْهُ». «څوک چې له اطاعت څخه ووت، او ټولی یې پرېښوده، بیا مړ شو، نو مرګ یې د جاهلیت مرګ دی، او څوک چې د داسې یو بیرغ لاندې وجنګېده چې برخلیک یې نه و معلوم یوازې د خپلوانو او قوم په خاطر په قهر او غصه شي، یا دا چې تعصب ته یې بلنه کوله، او یا یې ملاتړ د تعصب له مخې و، بیا مړ شو، نو مرګ یې د جاهلیت دی، او چا چې زما پر امت خروج وکړ، داسې چې نیک او بد یې له منځه یوسي، او د مؤمن په اړه یې پروا و نه ساتي، او د هېڅ ژمني والا سره یې په ژمنه وفا نه کوي، نو هغه له ما څخه ندی او زه له هغه څخه نه یم».

[صحيح] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي څوک چې د حاکمانو له اطاعت څخه ووځي او د اسلام له هغې ډلې څخه جلا شي چې له امام سره یې بیعت کړی وي او په همدې حالت کې مړ شي، نو هغه د جاهلیت د خلکو په مرګ مړ شو، هغه خلک چې د امیر اطاعت یې نه کاوه، د یو جماعت سره نه یو ځای کېدل، بلکې دوی بېلابېلې ډلې او ټپلې وې چې یو بل به یې سره وژل. . او هغه صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي، څوک چې د داسې بیرغ لاندې وجنګیږي چې حق لوری پکې له باطل څخه روښانه نه وي، یوازې د خپل قوم یا خپلې قبیلې لپاره د تعصب په خاطر غصه کیږي؛ نه د دین او حق د ملاتړ لپاره، نو له بصیرت او پوهې پرته د تعصب له مخې جنګیږي، که چېرته پدې حالت کې ووژل شو، مرګ یې لکه د جاهلیت د مرګ په څېر دی. او دا چې څوک د محمد صلی الله علیه وسلم د امت پر وړاندې بغاوت وکړي، نیک او فاجر دواړه یې وژني، او څه چې کوي هېڅ پروا یې نه ساتي او د هغه له امت څخه د مؤمنانو د وژنې له سزا څخه نه وېرېږي، او د کافرانو سره یې چې له چاسره تړون کړی او یا یې د خپلو چارواکو سره تړون کړی، نو وفا پرې نه کوي بلکه ماتوي یې، نو دا لویه ګناه ده، او چا چې دا ګناه وکړه، نو د سخت ګواښ مستحق دی.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee